# اباډي

پنځلس ورځنۍ

ABAADI ONLINE FORTNIGHTLY

د اقتصادي او ټولنيزو مسايلو په برخه کې
د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت پنځلس ورځنۍ

ګڼه: ۰٦ | مسلسل نمبر: ۱۴۴

چهارشنبه، ذوالحجه ۱۷مه، ۱۴۴۷هـ. ق کال


## محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د بو علي سينا بلخي د دوهم تخصصي ملي او نړيوال نندارتون پرانيسته وکړه




۲ صفحه

## محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په بلخ کې د لاجورد استوګنيز کمپليکس د بنسټ ډبره کېښوده




۲مه صفحه

## تدارکاتو کمېسيون د شاوخوا ۴,۲ ميلياردو افغانيو په لګښت ۱۵ پروژې منظورې کړې



۴مه صفحه



## سرليکنه

د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له لوري د روان ۱۴۰۵ لمريز کال د ثور مياشتې په ۲۹مه نېټه د بو علي سينا بلخي دوهم تخصصي ملي او نړيوال نندارتون پرانيستل شو. د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال په همدې موخه په جوړو شويو مراسمو کې د وينا پرمهال خوښي ښکاره کړه، چې د افغانستان د درملو سکټور د پياوړتيا په برخه کې لازم اقدامات شوي او اوس مهال د هېوادوالو اړتياوې تر ډېره له کورني توليد څخه پوره کېږي. هغه زياته کړه، د بهرنيو فشارونو او اقتصادي بنديزونو په مقابل کې تر ټولو مؤثره لار د کورني توليد پياوړي کول او د هغه ملاتړ دی. د درملو سکټور د هر هېواد د روغتيايي نظام يوه مهمه برخه ده چې د خلکو د روغتيا ساتنې، د ناروغيو د درملنې او د ژوند د کيفيت د ښه والي په برخه کې مهم رول لري. په اوسني عصر کې د درملو په سکټور کې پرمختګ نه يوازې د روغتيايي خدمتونو د ښه والي سبب ګرځي، بلکې د اقتصادي ودې، علمي پرمختګ او ځان‌بسياينې لپاره هم مهم ارزښت لري، ځان‌بسياينه يوازې د فابريکو په جوړولو نه ترلاسه کېږي. بلکې د کيفيت نړيوال معيارونه، مسلکي بشري ځواک، عصري ټکنالوژي، قانوني چوکاټ او د څېړنې او نوښت فرهنګ هغه اساسي عناصر دي چې د يوه قوي درمليز صنعت بنسټ جوړوي. هر ډول بې‌پامي په دغو برخو کې د توليد د کيفيت او د خلکو د باور د کمېدو لامل ګرځي. په افغانستان کې د درملو سکټور لا هم د ودې او پراختيا پړاو ته اړتيا لري. د کورنيو فابريکو پياوړتيا، د کيفيت د کنټرول معياري سيستم، د متخصصو کادرونو روزنه او د پانګونې لپاره مناسب چاپېريال هغه عوامل دي چې کولی شي د دې سکټور د چټک پرمختګ لپاره زمينه برابره کړي. همدارنګه، له طبي بوټو څخه اغېزناکه ګټه اخيستنه کولی شي د کورنيو درملو د توليد لپاره ارزښتناک فرصتونه رامنځته کړي. اسلامي امارت همدې ټکو ته په کتو د روغتيا په تېره بيا د درملو د توليد برخې ته زياته پاملرنه کړې ده. همدا لامل دی چې دا مهال په هېواد کې د درملو ۱۳۴ توليدي فابريکې فعاليت کوي، چې ۱۱۷۰ قلمه درمل توليدوي. په دې فابريکو کې ۴۵۰ ميليون ډالره پانګونه شوې، چې د هېواد ۳۸ سلنه اړتيا پوره کوي. له هغه وخته چې د اسلامي امارت له لوري د ځينو ګاونډيو هېوادونو د درملو پر وارداتو بنديز ولګېد نو له امله يې په هېواد کې د درملو توليد ته پاملرنه وشوه او په کور د ننه د درملو د توليد کچه لوړه شوه. د دې ترڅنګ د اسلامي امارت په هڅو سره د درملو د توليد او په دې برخه کې د پرمختګ له پاره نندارتونونه جوړ شول چې د بوعلي سينا بلخي دوهم تخصصي ملي او نړيوال نندارتون يې ښه بيلګه ده. د ګاونډيو هېوادونو په ګډون د سيمې له يو شمير هېوادونو څخه د درملو واردات هم پيل شول. اسلامي امارت هڅه کوي چې د درملو د توليد په برخه کې هېواد خودکفاء کړي. د درملو په سکټور کې پرمختګ يوازې د روغتيايي اړتياوو د پوره کولو وسيله نه ده، بلکې د اقتصادي پياوړتيا، علمي پرمختګ او ځان بسياينې لپاره يو مهم ګام هم ګڼل کېږي. هر څومره چې په دې سکټور کې پانګونه او پرمختګ زيات شي، په هماغه اندازه به د هېواد روغتيايي او اقتصادي راتلونکی روښانه او باثباته وي.

ABAADI ONLINE FORTNIGHTLY
د اقتصادي او ټولنيزو مسايلو په برخه کې
د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت پنځلس ورځنۍ
اباډي
پنځلس ورځنۍ

## محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د بو علي سينا بلخي د دوهم تخصصي ملي او نړيوال نندارتون پرانيسته وکړه

د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له لوري د روان ۱۴۰۵ لمريز کال د ثور مياشتې په ۲۹مه نېټه د بو علي سينا بلخي دوهم تخصصي ملي او نړيوال نندارتون پرانيستل شو. د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال په همدې موخه په جوړو شويو مراسمو کې د وينا پرمهال خوښي څرګنده کړه، چې د افغانستان د درملو سکټور د پياوړتيا په برخه کې لازم اقدامات شوي او اوسمهال د هېوادوالو ارتياوې تر ډېره له کورني توليد څخه پوره کېږي. هغه زياته کړه، د بهرنيو فشارونو او اقتصادي بنديزونو په مقابل کې تر ټولو مؤثره لار د کورني توليد پياوړي کول او د هغه ملاتړ دی. محترم ملا صاحب ووېل، په دې وروستيو کې د درملو د وارداتو کمول د دې سبب شول چې د افغانستان د درملو سکټور په کم وخت کې ډېره وده وکړي او هېوادوال د بهرنيو درملو پرځای له کورنيو درملو استفاده کوي. هغه زياته کړه، د هېواد ارتيا ته په کتو، دغه لاسته راوړنې کفايت نه کوي، بلکې ارتيا ده چې د درملو توليدي فابريکې لا ډېرې معياري او د منل شوو معيارونو مطابق خپلو توليداتو ته پراختيا ورکړي. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د درملو سکټور د پياوړتيا په برخه کې د دغه نندارتون جوړول مهم وبلل او د روغتيا سکټور له ټولو مسوولينو او هېوادوالو يې وغوښتل چې په خپلو کورنيو درملو باور او له هغو استفاده وکړي. حاجي ملا صاحب همدارازله سوداګرو او درملو پلورونکو هم په جدي ډول وغوښتل چې درمل په لوړه بيه ونه پلوري او له احتکار څخه لاس واخلي. محترم ملا صاحب په دې برخه کې له اړوندو امارتي ادارو او مسوولينو په کلکه وغوښتل چې د داسې کړنو جدي مخنيوی وکړي. د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال له ټولو پانګوالو وغوښتل چې په افغانستان کې پانګونه وکړي. هغه ډاډ ورکړ چې اسلامي امارت يې ترځنګ ولاړ دی، د پانګونې پروسو پر رالنډولو کار روان دی او په تدريجي ډول به اليکترونيکي سيستم رامنځته شي. محترم ملا صاحب همدارنګه ووېل چې اسلامي امارت يوازې پر داخلي اقتصاد تمرکز نه کوي، بلکې د سيمه‌ييز او نړيوال اقتصادي اتصال په برخه کې هم له هېوادونو سره پياوړې اړيکې غواړي او په خبره يې، اوسمهال د سيمې او ګاونډيو هېوادونو سره اقتصادي تعاملات زيات شوي. د بو علي سينا بلخي دوهم تخصصي ملي او نړيوال نندارتون کې د درملو لسګونو توليدي فابريکو خپل توليدات نندارې ته وړاندې کړل، چې څلور ورځې يې دوام درلود. اوسمهال په ټول هېواد کې د درملو ۱۳۴ توليدي فابريکې فعاليت کوي، چې ۱۱۷۰ قلمه درمل توليدوي. په دې فابريکو کې ۴۵۰ ميليون ډالر پانګونه شوې، چې د هېواد ۳۸ سلنه ارتيا پوره کوي. دغه کچه اته مياشتې وړاندې ۲۵ سلنه وه، چې د بهرنيو درملو د وارداتو په کمولو سره کورني توليد د پام وړ پرمختګ وکړ.




## محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په بلخ کې د لاجورد استوګنيز کمپليکس د بنسټ ډېره کېښووده




د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د روان ۱۴۰۵ لمريز کال د ثور مياشتې په ۲۹مه نېټه په بلخ ولايت کې د لاجورد استوګنيز کمپليکس د بنسټ ډېره کېښووده. د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال په همدې مناسبت جوړو شوو مراسمو ته ووېل، اسلامي امارت د هېواد د اقتصادي خپلواکۍ، د کورنۍ او بهرنۍ پانګونې د جذب او زيربنايي پروژو تطبيق ته ځانګړې پاملرنه کړې، چې لاجورد کمپليکس يې ښه بېلګه ده. محترم ملا صاحب زياته کړه، لکه څنګه چې په هېواد کې د قوش‌تېپې سترې پروژې، صنعتي فابريکو، د لويو لارو، د برېښنا توليد او نورو سکټورونو کې د پروژو عملي چارې روانې دي، تر څنګ يې د ښاري پراختيا په برخه کې هم د ماستر پلانونو په نهايي کېدو او تطبيق عملي کار روان دی. هغه ووېل، اسلامي

امارت ځان مکلف ګڼي چې د ودانیزو پروژو په برخه کې کورنیو او بهرنیو پانګوالو ته د پانګونې زمینه او اسانتیاوې برابرې کړي. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د هېواد په اقتصادي ثبات او بیارغونه کې د دولت ترڅنګ د خصوصي سکتور ګډ کار مهم وباله او ډاډ یې ورکړ، چې اسلامي امارت یې پوره ملاتړ کوي. هغه پر ټولو پانګوالو غږ وکړ، چې د نورو برخو ترڅنګ په ساختماني سکتور کې هم پانګونه وکړي. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال همدارنګه وویل، بلخ ولایت ته د خپل سفر په ترڅ کې به له سوداګریزو بندرونو څخه هم لیدنه وکړي، څو یې خدمات ۲۴ ساعته شي او ټولې اداري له ځنډ پرته صادراتي او وارداتي خدمات وړاندې کړي. حاجي ملا صاحب وویل، په دې سفر کې د بېلابېلو سکټوري ادارو مسوولین هم ورسره ملتیا کوي، څو په بلخ کې د روان اقتصادي تحرک او پرمختیایي فعالیتونو او بندري چارو اړوند شته ستونزې، اړتیاوې او ننګونې له نږدې وګوري او حل لارې ورته پیدا کړي. د لاجورد استوګنیز کمپلیکس کې د خصوصي سکتور له لورې ۱۵۰ میلیون ډالر پانګونه کېږي، چې شاوخوا ۱۴۴۸ اپارتمانونه به پکې په عصري او معیاري بڼه جوړ او شاوخوا ۷۰۰۰ هېوادوالو ته به د کار زمینه برابره شي. دغه کمپلیکس پر شاوخوا ۲۱ جریبه ځمکه جوړېږي، چې د سوداګریزې او روغتیا برخو تر څنګ به ښوونځي، شنې ساحې، مسجد، د تفریح او ورزش ځایونه په ګډون ټولې اړینې اسانتیاوې ولري.

## محترم ملا عبدالغني برادر اخوند حیرتان بندر ته سفر وکړ

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند او ورسره مل پلاوي د روان ۱۴۰۵ لمریز کال د ثور میاشتې په ۳۰مه نېټه په بلخ ولایت کې حیرتان بندر ته سفر وکړ. د دې سفر پرمهال د حیرتان بندر د ۲۴ ساعته خدمتونو پر وړاندې کولو او په دغه بندر کې د امارتي ادارو لکه مالیې، صنعت او سوداګرۍ، بهرنیو چارو، ترانسپورټ او هوايي چلند



او ټولګټو وزارتونو، د حیرتان کمیسارۍ، خوړو او درملو اداري، د معیار او کیفیت اداري، د نفت او ګازو، استراس او او افسوتر امارتي شرکتونو پر موجوده ستونزو خبرې وشوې او د حل په اړه یې لازم تصامیم ونیول شول. د نیول شوو تصامیمو له مخې به له اړتیا سره سم په دغه بندر کې د امارتي ادارو تشکیل زیات شي، لوی او معیاري پارکینګونه، اداري ودانۍ، د تخلیې او بارګیرۍ مرکزونه، پرمختللي لابراتوارونه، معیاري سړکونه او سړې خونې به جوړ شي، د اوسپنې پټلۍ موجودې کرښې به پراختیا پیدا کړي، د ترانسپورټ او انتقالاتو لپاره به نقلیه وسایط برابر شي، د لوی وزن د معلوملو لپاره به ډیجیټلي تلې او د قاچاق د مخنیوي لپاره به سیار سکنرونه نصب شي. په دې سره به په حیرتان بندر کې له ځنډ پرته په بشپړه توګه ۲۴ ساعته صادراتي او وارداتي خدمتونه وړاندې شي، چې په پایله کې به د افغانستان او ازبېکستان ترمنځ د دوه اړخیزې سوداګرۍ کچه زیاته او د اقتصاد په وده کې به مثبت رول ولري.

## محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ازبیکستان د اوسپنې پټلۍ اداري له عمومي رییس سره وکتل



د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د روان ۱۴۰۵ لمریز کال د ثور میاشتې په ۳۱ مه نېټه په بلخ ولایت کې د ازبېکستان هېواد د اوسپنې پټلۍ اداري له عمومي رییس سره وکتل. د دې لیدنې پرمهال ازبیک مسوولینو وویل، غواړي په نایب اباد سټېشن کې د یو نیم کیلو متر په اوږدوالي د اوسپنې پټلۍ نوې کرښه او د دې کرښې په اوږدو کې د تخلیې او بارګیرۍ لپاره څو ګدامونه جوړ کړي. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال دا هڅه وستایله او د ټولګټو وزارت مسوولینو ته یې هدایت وکړ، څو یې تخنیکي او ساختماني چارې په ګډه له ازبیک لوري سره پرمخ یوسي. د دې کرښې او ګدامونو په جوړېدو سره به د حیرتان بندر ظرفیت زیات او سوداګرو ته به اسانتیاوې رامنځته شي.

## د حیرتان – مزارشریف اوسپنې پټلۍ پنځمه برخه بیاځلي فعاله شوه

د ریاســت‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د روان ۱۴۰۵ لمریز کال د ثور میاشتي په ۳۱ مه نېټه په بلخ ولایت کې د حیرتان – مزارشریف اوســپنې پټلۍ د پنځمې برخې د بیاځلي فعالېدو پرانیسته وکړه. د



ریاســت‌الوزراء اقتصادي مرســتیال په هېــواد کې د اوســپنې پټلۍ شــبکو د پراختیا په برخــه کې د ټولګټو وزارت هڅــې وســتایلې او همداراز يې د ازبیکســتان هېــواد له همکاریــو هم مننه وکړه. هغــه زیاته کړه، د افغانســتان او ازبیکســتان ترمنځ اقتصــادي او ســوداګریزې اړیکې د پخوا په پرتله پیاوړې شوې او د پراختیا لپاره يې د بلخ د محترم والي صیب په مشرۍ له اړوندو ادارو څخه ګډه کمېټه ټاکل شوې ده.
د حیرتان – مزارشریف اوســپنې پټلــۍ پنځمه برخه ۷۰ کیلومــتره اوږدوالی، ۳۰ کیلومتره فرعي کرښــې، پنځه سټېشــنونه او همدارنګه د ۵۰ واګونونو د تخلیې ظرفیت لري. د دې برخې په فعالېدو سره به د ســوداګریزو توکو د حجم پــه زیاتوالي او انتقال کې د پام وړ ســهولتونه رامنځته شي.

## تدارکاتو کمېسیون د شاوخوا ۴,۲ میلیارده افغانیو په لګښت ۱۵ پروژې منظورې کړې

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د تدارکاتو کمېســیون نوبتــي غونډه د روان ۱۴۰۵ لمریز کال د جوزا میاشتې په دوهمه نېټه په مرمرینه مانۍ کې ترسره شوه. دې غونډې ته له اجندا سره سم ۳۱ پروژې د منظورۍ لپاره وړاندې شوې. له بحث وروسته د ۴,۲ میلیارده افغانیو په ارزښت ۱۵ پروژې منظورې شوې او په ۷ پروژو کې یې یولړ تعدیلونه راغلل. د څلورو پروژو په اړه ټاکل شویو کمېټو ته دندې وسپارل شوې، څو د پروژو د قیمتونو په اړه له ګټونکو



شرکتونو سره مذاکره ترسره او راپور يې د تدارکاتو کمېســیون مشرتابه ته وړاندې کړي. همدا ډول د دریو پروژو په اړه ټاکل شــوو کمېټو ته دنده وسپارل شــوه، څو يې تدارکاتي پروسه بیاځلې و ارزوي او راپور يې د تدارکاتو کمېســیون مشرتابه ته وړاندې کړي. همداراز د دوه نورو پروژو په اړه پرېکړه وشوه، چې مقیدي داوطلبۍ ته دې وړاندې شي. په منظور شوو او تعدیل شــوو پروژو کې د غــزني ولایت د زړدالو بنــد د جیوتخنیک مطالعاتو بشپړول، د بلخ ولایت د حیرتان بندر د ۱۴ کیلومتره سړک جوړول، د کابل – لوګر سړک د لومړي لاټ له پای څخه تر ســنګ نوشته پورې د ســړک جوړول، د فاریاب ولایت په لولاش، د غزني ولایت په اندړو، د دایکندي ولایت په کجران، د بادغیس ولایت په بالامرغاب، د بامیان ولایت په کهمرد او د خوست ولایت په موسی خېل ولسوالیو کې د عمومي روغتونونو جوړول او همداراز په مختلفو ولایتونو کې د برېښــنا رسونې او توزیع پروژو د پاتې چارو بشــپړول شــامل دي. منظور شوې پروژې د افغانستان اسلامي امارت له لوري تمویلېږي.

## د پانګونې بین الوزارتي کمېټې کابل کې د تفریحي، ورزشي او سوداګریز کمپلکس د سوداګریزو مارکیټونو په طرحو بحث وکړ

د پانګونې بین‌الوزارتي کمېټې نوبتي غونډه د روان ۱۴۰۵ لمریز کال د ثور میاشتې په ۲۹مه نېټه په مرمرینه مانۍ کې جوړه شــوه. دې غونډې ته د تخار ولایت په مرکز تالقان ښار او د سرپل ولایت په مرکز کې د ښاروالۍ پر ځمکو د سوداګریزو مارکیټونو د جوړولو د طرحو مالي موډل له عامه او خصوصي مشارکت څخه بدیل شرعي عقد ته د اړولو په تړاو د چــارو اداري له خوا وړاندې شــوي راپورونه تایید شول. د پانګونې بین الوزارتي کمېټې دې غونډې ته همدا راز د کابل ښار په پنځمه ناحیه کې د دفاع وزارت په ځمکه د تفریحي، ورزشي او سوداګریز کمپلکس د جوړولو طرحه هــم د بحث لپاره وړاندې شــوه. په غونــډه کې تر بحث وروســته دا طرحه دفاع وزارت ته راجع شوه چې د مالي، تخنیکي او اقتصادي اړخونو له ارزولو وروســته دې خپل راپور د پانګونې له بین الوزارتي کمېټې سره شریک کړي.

# اقتصـادي خبـــرونه

## آغاز فعالیت نخستین کارخانه عصری طراحی لباس زنانه در کشور

نخستین کارخانه عصری طراحی لباس زنانه در کشور آغاز به کار کرده و زمینه‌های تازه‌ای برای اشـتغال‌زایی و رشد تولیـدات داخلـی فراهم سـاخته اسـت. این کارخـانـه که از پاکسـتان به افغانستان منتقل شده، با ماشین‌آلات پیش‌رفته



در بخش طراحی و تولید لبـاس فعالیت می‌کند. این کارخانه ی دیزایـن لباس زنانه به هدف ترویج فرهنگ افغانی و ایجاد فرصت‌های شـغلی، از یک سال به این‌سـو در کشور فعالیت دارد، تمامـی مرحله‌های طراحی لباس‌هـا در این کارخانه با استفاده از ماشـین‌آلات پیش‌رفته و سیسـتم‌های کمپیوتری انجام می‌شود. عبدالجمیل، یکی از کارگران در باره‌ی ایجاد فرصت شغلی می‌گوید: «در گذشته در پاکستان مهاجر بودم، فعلا به افغانسـتان آمده‌ام و بسـیار خرسـند هستم که در این کارخانـه برایـم فرصت کار فراهم شـده اسـت.» به‌گفته‌ی مسؤولان، این نخسـتین کارخانه‌ی مدرن دیزاین لباس زنانه در کشـور است و برای رشد تولیدات داخلی، خواهان سهولت بیش‌تـر در بخش‌هـای گمرک، برق و رونـد اداری‌اند. غوث الدیـن صافی، نماینده‌ی کارخانـه، در این باره گفت: «ما از شـهروندان می‌خواهم کـه از تولیدات داخلی اسـتفاده کنند، فرهنـگ خود را فرامـوش نکنند و باإین اقدام‌ها می‌شـود که فرهنگ خود را رشـد بدهیـم و تغیرات جدیـدی در آن ایجاد کنیم.» در همین حال، وزارت صنعت و تجارت از پشـتیبانی صنعت‌کاران در کشور اطمینان می‌دهد.

## تاکید مقام‌های ایران و امارت اسلامی بر توسعه همکاری‌های اقتصادی و مرزی

والی خراسـان رضوی ایـران در دیدار با سرقنسـول امارت اسـلامی افغانستان در مشـهد، بر گسـترش همکاری‌های اقتصادی و توسـعه سرمایه‌گذاری‌های مشترک تاکید کرده اسـت. آقای مظفری نیز در این دیدار بر تسهیل صدور ویزه کار و مدیریت اصولی ورود و خروج شـهروندان افغانستان با حفـظ کرامت تاکیـد کـرد. سیدمسـعود، آگاه اقتصادی، گفـت: «روابـط افغانسـتان و ایـران در قسـمت تجارت، خصوصاً بعد از پاکسـتان، در یک رونق خوبی قرار دارد. در حقیقت توانسـته که آن را جبران کند و حرکت‌های پاکستان در برابر افغانسـتان انجام داده‌اند بـا ۳,۵ میلیارد دالر فعلا ما حرکت‌های انجام می‌دهیم.» سرقنسـول امارت اسلامی در مشـهد نیز درایـن دیدار، بر ضرورت ازسرگیـری فعالیت حمل‌ونقل مسـافری میـان تایباد و هـرات تاکید کرد و هم چنیـن اجـرای توافق‌های پیشـین میان دو کشـور را برای تقویـت پیوندهـای اقتصـادی و ترانزیتـی مهـم دانسـت. درسـوی هم، وزارت اقتصاد می‌گوید که هم‌کاری‌های اقتصادی میان افغانستـان و ایران بر توسـعه‌ی زیربناهای ترانزیتـی، ایجـاد بازارچه‌هـای مشـترک مـرزی و تقویت تجـارت دوجانبـه متمرکـز اسـت. پیوندهـای ایـران و افغانسـتان در سال‌های اخیر همواره بر محور همکاری‌های اقتصادی، ترانزیتی و مدیریت مرزها جریان داشـته است و مقام‌هـای دو کشـور نیز بر گسـترش پیوندها در بخش‌های گوناگون، به‌ویژه حوزه‌ی اقتصادی، تاکید داشـته‌اند.

## حجم تجارت افغانستان و روسیه در یک سال نزدیک به دو برابر شد

روابط تجارتی میان افغانسـتان و روسـیه در سـال ۱۴۰۴ در مقایسـه با سـال ۱۴۰۳ افزایش چشـمگیری داشته است. بر پایـه‌ی آمارهـای وزارت صنعـت و تجـارت، ارزش مجمـوع تجـارت از ۲۹۶ میلیـون دالر به ۵۹۰ میلیون دالر رسـیده که بیان‌گر افزایش نزدیک به دو برابری حجم دادوسـتد میان دو کشـور اسـت. با وجود این رشـد، سـاختار تجـارت هم‌چنان نامتوازن باقی مانده اسـت؛ زیرا بخش اعظم آن را واردات تشـکیل می‌دهد و سـهم صادرات افغانسـتان با نزدیک به ۵ میلیون دالر در سطح بسیار محدود قرار دارد. وزارت صنعت و تجـارت، در این باره گفـت: «اقلام صادراتی افغانسـتان به روسـیه شـامل کشـمش، انـار، گیـلاس، نوشـیدنی‌های غیرالکولی، سـنگ‌های معدنی، زردآلوی خشک، سیب، انواع نباتات طبی و تربوز است. در مقابل، گاز طبیعی، تیل پترول، تیـل دیزل، چوب چهارتراش، نخود خام و روغن آفتاب‌گردان از مهم‌ترین اقلام وارداتی افغانسـتان از روسـیه به شمار می رود.» در همین حال، اتاق تجارت و سرمایه‌گذاری با اشـاره بـه بهبود پیونـد تجارتی بـا روسـیه پافشـاری دارد که برای اسـتفاده‌ی موثر از این رشد، باید زمینه‌های افزایش صادرات و پشـتیبانی از محصولات داخلی بیش‌تر فراهم شـود. مسکو در سـال‌های اخیر پیونـد خود با کابل را از عرصه سیاسـی و دیپلوماتیـک به حوزه‌های تجارت، ترانزیـت و همکاری‌های اقتصادی گسترش داده است.

ABAADI ONLINE FORTNIGHTLY
د اقتصـــادي او ټولنيـــزو مسايلـــو په بـــرخه کـــې
د رياســـت الـــوزراء اقتصـــادي معاونيت پنځلـــس ورځنۍ
اباديِ
پنځلــس ورځنۍ

## دادوستد تجاری کابل و دهلی نو؛ افزایش تجارت در میان چالش‌های ترانزیتی

افغانستان در سال ۱۴۰۴ خورشیدی به ارزش یک میلیارد و یک میلیون دالر دادوستد تجارتی با هند داشته است؛ رقمی که در مقایسه با سال ۱۴۰۳، ۱۲ درصد افزایش را نشان می‌دهد. بر پایه‌ی آمارهای وزارت صنعت و تجارت، از مجموع تجارت میان دو کشور در سال ۱۴۰۴، بیش از ۷۷۳ میلیون دالر آن را صادرات افغانستان به هند تشکیل می‌دهد؛ در حالی‌که حجم مجموعی تجارت دو کشور در سال ۱۴۰۳ نزدیک به ۸۹۰ میلیون دالر ثبت شده بود. این ارقام نشان می‌دهد که سطح تجارت میان کابل و دهلی‌نو، با وجود محدودیت‌های ترانزیتی و چالش‌های منطقه ای، هم‌چنان روند صعودی دارد. وزارت صنعت و تجارت، در این باره گفت: «اکثر اقلام صادراتی افغانستان به هند را انجیر، هنگ، کشمش، زعفران، پسته، بادام، سیب، زیره و زردآلوی خشک تشکیل می‌دهد و در مقابل، ادویه طبی، البسه نو، منسوجات کتان و برنج سیله از مهم‌ترین اقلام وارداتی از هند به افغانستان به‌شمار می‌رود.» افغانستان در حال نمی‌تواند به‌گونه ی مستقیم از مسیر پاکستان با هند تجارت انجام دهد و محدودیت‌های ترانزیتی میان دو کشور هم‌چنان پابرجاست. از سوی دیگر، بندر چابهار ایران که یکی از مسیرهای بدیل برای تجارت افغانستان با هند به‌شمار می‌رود، در ماه‌های اخیر با برخی مشکل‌ها و کندی‌ها روبه‌رو بوده است. هند هم‌چنان یکی از مهم‌ترین بازارها برای صادرات افغانستان، به‌ویژه محصولات زراعتی، خشکبار و گیاهان طبی باقی مانده است.




## په بلخ کې د لاجورد استوګنيز کمپلېکس د بنسټ ډېرې ايښودو پرمهال
# د محترم ملا عبدالغني برادر اخوند وینا

**الحمدلله و کفی و سلام علی عباده الذین اصطفی**

**اما بعد!**

**فاعوذ باالله من الشیطان الرجیم**

**بسم الله الرحمن الرحیم**

**و هو الذي أنشأكم من الأرض واستعمركم فيها**

د بلخ ولایت محترم والي، د امارتي ادارو نورو مســـوولینو، علماوو، مجاهدینو، د خصوصي سکټور نماینده‌ګانو، راغلو مېلمنو او د غونډې ټولو ګډونوالو!

**السلام علیکم و رحمة الله وبرکاته!**

نن د خوشـالـۍ ځای دی چې موږ او تاسـې د یوې مهمې اقتصادي پروژې د عملي چارو د پیل په مراسمو کې سره راټول ســوي یو، څو د بلخ په تاریخي ولایت کې د لاجورد کمپلېکس د عملي چارو د پیل شاهدان واوسو؛ چې شاوخوا ۱۴۴۸ عصري اپارتمانونه پکې د عصري، خوندي او هوسا ژوند لپاره په نوي طرحه او معیاري بڼه جوړېږي.

دغه پروژه به یــوازې د ودانیو او تعمیرونو مجموعه نه وي؛ بلکې د دغه ولایت د اقتصادي ودې، ښاري پرمختګ، ملي پانګونې د جذب او د راتلونکي نسل د هوسا ژوند یو روښانه سمبول به وي.

اســلامي امارت له پیله د هېواد اقتصــادي خپلواکۍ، کورنــۍ او بهرنــۍ پانګونې جلب او جــذب او زېربنایي پروژو ته ځانګړې پاملرنه کړې ده. نن موږ او تاســې په ټول هېواد کې د سرتاسري امنیت د ټینګښــت او د پانګونې لپاره د مناســب چاپېریــال د رامنځته کېدو له امله وینو چې هره ورځ ســتري اقتصادي پروژې پیل یا هم ګټې اخیستنې ته ســپارل کېږي. لاجورد کمپلېکس د همدې مثبت تحول ښکاره مثال دی.

دا کمپلېکـــس او دې ته ورته نورې پروژې به د بلخ غوندې مهم تاریخي، فرهنګي، تجارتي او صنعتي ولایت اقتصادي ارزښت نور هم لوړ کړي او په شمال زون کې به د اقتصادي تحرک سبب وګرځي.

اسلامي امارت ژمن دی چې د هېواد په ټولو ولایتونو کې د زېربنايي، صنعتي، کرنيزو او ښــاري پـــروژو ملاتړ ته دوام ورکـــړي. لکه څنګه چې په هېواد کې د قوش‌تېپې ســتره پـــروژه، صنعتي فابريکې، د لويو لارو جوړولو، د برېښـــنا د توليد او په نورو مختلفو سکټورونو کې د پروژو عملي چارې رواني دي، تر څنګ يې د ښاري پراختيا په برخه کې هم د ماســټر پلانونو په نهايي کېـــدو او د تطبيق په برخه کې د عملي چارو پر پيل کار روان دی.

د افغانستان اسلامي امارت ځان مکلف ګڼي چې د صنعت، کرنې، برېښـــنا او سوداګرۍ ســـکټورونو ترڅنګ د ودانیزو پروژو په برخه کې هم کورنيو او بهرنيو پانګوالو ته د پانګونې زمينه برابره کړي. د مسکوني ودانیو رغول د ښارونو د تعمير او د هېواد د اساساتو د جوړولو مهم اړخ دی چې ولس ته په معاصرو معیاراتو سمبال سرپناه برابروي.

اوسنۍ نړۍ د پرمختللو ښـــارونو، عصري زېربناوو او منظم ښـــاري ژوند پر لور روانه ده. افغانســـتان هم حق لري چې معياري ښارونه، عصري استوګنيز کمپلېکسونه او پرمختللي



اقتصادي سیمي ولري. زموږ هېوادوال د داسې ژوند مستحق دي چې پکې امنیت، اسانتیا، پاک چاپېریال، تعلیم، روغتیا او ښاري خدمات په معیاري ډول موجود وي.

موږ تـل ټینگار کړی چې د افغانستان اقتصادي ثبات او رغونه یوازې د حکومت لـه لارې نه، بلکې د دولت او خصوصي سکتور د مشترک کار له لارې عملي کېدای سي. خصوصي سکتور د هېواد د اقتصاد د ملا د تیر حیثیت لري او اسلامي امارت د کورنیو او بهرنیو پانگوالو ملاتړ خپل اساسي مسوولیت گڼي.

په همدې اساس یو ځل بیا په ټولو سوداگرو غږ کوم چې په خپل هېواد کې پانگونه وکړي، او دلته له شته بشري او طبیعي زېرمو او فرصتونو څخه استفاده وکړي.

زموږ د دې سفر اساسي موخه هم دا ده چې په دغه ولایت کې د پروژو او اقتصادي فعالیتونو د ښه تطبیق، چټکتیا او همغږۍ لپاره لازم گامونه پورته سي، بندري خدمتونه ۲۴ ساعته سي او ټولې اداري له ځنډ پرته صادراتي او وارداتي اموالو ته خدمات وړاندې کړي څو د ولسونو اقتصادي وضعیت لا ښه سي، د پانگونې لپاره زمینه لا پراخه سي او د ولایت د دوامداره پرمختگ لپاره عملي اقدامات ترسره سي.

زموږ سره په دې سفر کې د بېلابېلو سکتوري وزارتونو او ادارو محترم مسوولین دي، څو په بلخ ولایت کې د روان اقتصادي تحرک او پرمختیایي فعالیتونو او بندري چارو اړوند شته ستونزې، اړتیاوې او ننگونې له نږدې وگورو او ورته پر وخت رسېدنه وکړو.

په پای کې د لاجورد کمپلیکس ټولو مسوولینو، انجنیرانو، کارکوونکو او پانگوالو ته مبارکي وایم چې د هېواد د آبادۍ لپاره یې دا مهم گام پورته کړی دی. الله تعالی دې وکړي چې دغه پروژه د خیر، برکت، د دغه ولایت د اقتصادي ودې او د هېوادوالو د هوساینې سبب وگرځي.

**له توجه څخه مو مننه**

**والسلام علیکم ورحمة الله و برکاته**




## د بهرنيو اسعارو بيې

د کابـــل په شهزاده ســرای کې د افغانۍ پر وړاندې د بهرنيو اسعارو د نن ورځې بيې



| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱ | امريکايي ډالر | ؋۶۳,۶۰ | ؋۶۳,۶۵ |
| ۱۰۰۰ | پاکستانی کلداري | ؋۲۲۱ | ؋۲۲۲ |
| ۱۰۰۰ | ايراني تومن | ؋۰,۳۶ | ؋۰,۳۷ |
| ۱ | اروپايي يورو | ؋۷۳,۲۰ | ؋۷۳,۴۰ |
| ۱ | روسي روبل | ؋۰,۸۷ | ؋۰,۸۷ |

| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱۰۰۰ | هندی کلداري | ؋۷۴۶ | ؋۷۴۴ |
| ۱ | انگليسي پوند | ؋۸۵,۰۰ | ؋۸۵,۴۰ |
| ۱ | سعودي ريال | ؋۱۶,۹۳ | ؋۱۶,۹۴ |
| ۱ | اماراتي درهم | ؋۱۷,۳۲ | ؋۱۷,۳۳ |
| ۱ | چيني ين | ؋۹,۴۰ | ؋۹,۴۱ |

